AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۰/۱۱/۱۳

# پـتــه

د رڼـا سیـوري دي پـه سـترګـو کـــي دي
سپوږمۍ او ستوري دي په سترګو کي دي

یــو سـمـنـدر هـیـنـداري بـې تـصـویـره
چې نـه را ګـوري دي پـه سترګو کي دي

بـانـه قـیـام، بـانـه رکـوع او سـجـدې
د لـمـانـځـه تـوري دي په سترګو کي دي

چې ځـمـه ـ ځـمـه، بـېـرتـه تا تـه رسم
د ژونـدون لـوري دي پـه سترګـو کي دي

څه پوښتي، چا دي راوړ شونډو ته رنګ؟
دغــه خـونـخـوري دي پـه سترګو کي دي

دوی یـم بـلـلـی سـتـا د تـــن وطن تـه
دا وطـن پـلـــوري دي پـه سترګو کي دي

د شـونـډو ست، د غـېـږې اور او شـراب
دا تـول سرزوري دي پـه سـترګو کي دي

زمـا پـــه زلـمـیـو هـــوسـو مـیـینې!
د غـه هـمـزولي دي پـه سـترګو کي دي

۱۳۹۹ عقرب ۲۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ